**د ښځو د نړیوالې ورځې په اړه د کاناډا د سفیر څرګندونې**

د مارچ 7 مه، 2010

په افغانستان کې د کاناډا سفیر ویلیم کروزبی نن دغه بیانیه **د ښځو د نړیوالې ورځې** د نمانځنې په مناسبت، صادره کړه.

" د ښځو نړیواله ورځ داسې یو فرصت دی، ترڅو له پرمختګونو څخه نمانځنه، د شته ننګونو څخه یادونه او په ټولو برخو کې د ښځو د ژوند د ښه والي په موخه راتلوونکې اقدامات په پام کې ونیسو. همدارنګه په ټولنو کې د ښځو د ونډې او مشرتابه د هڅونې او ستاینې لپاره یو فرصت دی، همداراز د هغوی د هڅو څخه د ملاتړ په موخه مشرتوب ته اړتیا شته.

" د ښځو او نارینه وو ترمنځ مساوات او انډول په افغانستان کې د کاناډا د هڅو یوه مهمه موخه ده، او په پراخه توګه زموږ د پراګرامونو په لومړیتوبونو کې انعکاس شوی دی. د افغانستان لپاره د کاناډا د شپږو لومړیتوبونو د یوې برخې په توګه، موږ د یو زیات شمیر پروژو څخه ملاتړ کوو، کوم چې موخه یې د ښځو او نجونو د بشري حقونو پراختیا ده ، ترڅو ښوونې او روزنې او روغتیایي اسانتیاوو ته د دوی لاسرسی زیات شي، او د هغوی له سیاسي ګډون څخه ملاتړ او اقتصادي فرصتونه یې پیاوړي شي.

" زه همدارنګه د هغو پرمختګونو څخه یادونه کوم چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو لپاره ترسره شوي، چې پکې ښوونې او روزنې، روغتیایي اسانیتاوو او د کارموندنې فرصتونو ته د دوی پراخ لاسرسی شامل دی. ښځې اوس مهال ښوونې او روزنې، روغتیایي اسانیتاوو او کارموندنې ته پراخ لاسرسی لري. خپل او خپلو کورنیو ته د یوه ښه ژوند د درلودو لپاره د افغانو ښځو له ارادې څخه باید ملاتړ وشي.

" خپلو خلکو ته د اساسي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د افغانستان د حکومت د وړتیا لوړول د افغانستان لپاره د کاناډا یو مهم لومړیتوب دی، چې پکې ښوونې او روزنې، روغتیایي اسانیتاوو او د کارموندنې فرصتونو ته پراخ لاسرسی شامل دی.

"کاناډا همدرانګه باور لري، چې د افغانستان په پارلمان، مدني ټولنې او په نورو ډیموکراتیکو نهادونو کې د ښځو فعال ګډون د یو سولې غوښتنوونکې ملت د پراختیا لپاره ډېر زیات مهم دی. د 2010 کال پارلماني ټاکنې د افغانستان په ډیموکراتیکو پروسو کې د کاندیدانو، منتخبو استازو، رایې ورکوونکو او د ټاکنو د کارکوونکو په توګه د ښځو ګډون د پیاوړتیا لپاره یو ښه چانس دی.

" دغه فرصتونه د ښځو او نجونو لپاره د افغانستان د ژمنو او موخو څخه ملاتړ کوي. د افغانستان د اساسي قانون او د بشري حقونو د نړیوالو ژمنو ته په پام کې نیولو سره، د پراختیا ملي ستراتیژي او د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان پر قاطع پایلو تمرکز کوي، ترڅو د ښځواو نجونو په ژوند او د هغوی په کورنیو او ټولنو کې بدلون راشي.

" که څه هم چې پرمختګونه ترسره شوي، خو اوس هم زیات کار پاتې دی ترڅو هغه ستونزې چې ښځې او نجونې ورسره په افغانستان کې مخ دي، هوارې شي. ښځې او نجونې په دوامداره توګه د تبعیض، تاوتریخوالي او بې وزلۍ له ستونزو سره لاس او ګریوان دي. کاناډا به د افغانستان د حکومت او هغه بنسټونو سره چې د ښځو او نجونو د ژوند او حقونو د ښه والي ته ژمن دي، خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

" کاناډا په دوامداره توګه د قانون جوړونې او د عمل په برخه کې د افغانستان حکومت دې ته هڅوي، ترڅو د افغاني ښځو او نجونو بشري حقونه ځواکمنیا ومومي.

" د دغه ستونزو حل یوې اوږد مهالې پروسې ته اړتیا لري، چې په یوې شپې کې نه ترسره کیږي، خو د کاناډا په مرسته، د افغاني میرمنو او نجونو په ژوند کې مثبت بدلون رامنځته کیږي او په دې برخه کې د کاناډا ژمنه کلکه ده.